SHARIAT DAILY

ورځپانه

شریعت

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

شپږم کال۷۷گڼه پرله پسې (۴۵۷) یکشنبه د ۱۴۲۲ هـ ق کال د شعبان المعظم (۵) د ۱۳۸۰ هـ ش کال دمیزان (۲۹) د ۲۰۰۱ میلادي کال داکتوبر (۲۱)

الهی فرمان

ترجمه : تاوبه ... لیدل چې ستا رب په عاد باندې ... وکړل ... ذېر طاقتور سره سره بې هلاک کړل)

غربي یرغل زموږ ۳۰۰ تنه هیوادوال شهیدان کړل

کابل باختر :

په افغانستان باندې د امریکا او انګلیس د یرغلګرو ځواکونو د بمباریو له امله زموږ دیرش تنه مظلوم او بې ګناه هیوادوال په هرات کندهار او کابل کې تیره شپه په شهادت رسیدلي .

د امریکا او انګلیس یرغلګرو ځاکونو تیره شپه ځوځلي د کندهار ، هرات او دکابل پر بیلابیلو سیمو باندې وحشیانه بمبارۍ وکړې چې د هغو له امله زموږ دیرش تنه هیوادوال شهیدان او په لسګونو تنه نور ټپیان شویدي .

د یرغلګرو پرځونو د وحشیانه بریدونو په بهیر کې د استوګنې په لسګونو کورونه د کابل کندهار او هرات په ښارونو کې ویجاړ شویدي او د امریکا او انګلیس د یرغلګرو او جنایتکارو پوځونو بریدونه غیر پوځي سیمو

او د عادي خلکو کورونو ته متوجه ۇ چې ویلې شو د هرات په ښار کې اتلس تنه ، دکندهار په ښار کې لس تنه او دکابل په ښار کې دوه تنه شهیدان شویدي .

د یرغلګرو ځواکونو بریدونو د افغانستان په

۴مخ

عکس : په توې ښارکې داستوګنې هغه کورونه چې دامریکا او انګلستان دهوایي یرغل هدف ګرځیدلي دي

داطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوي قدرت الله «جمال»

نړیوالو مرستندویه موسسو ته دبشري مرستو دکارونو په تړسره کولو کې هیڅ راز خنډنشته

غربیانو دبشري مرستود بندولولپاره دبې ځایه تورونو لګول پیل کړي

کابل – شریعت:

په دې وروستیو کې ▬ دغربي خبري منابعو لخوا یو لړتبلیغات په لاره اچول شوي او په افغانستان کې دطالبانو په لاس د ملګرو ملتونو دبشري مرستو او خوراکي موادو دګدامونو دچور او تالان خبري کوی. په دې اړه دافغانستان داسلامي امارت داطلاعاتو

۴مخ

د مزار شریف د مارمول ولسوالي فتحه شوه

باختر :

د بلخ ولایت د مارمول ولسوالي په بشپړه توګه د امریکا او روسیې د مزدورو ملیشو له شته والي څخه پاکه شوه .

د مزار شریف له ښار نه دباختر اطلاعاتي اژانس خبر

۴مخ

مسکو دمخالفینو تر واک لاندې سیمه د روسیې برخه وبلله

خبري منابع:

دروسیې د حکومت دلوړومقاماتو له خولې خبر ورکړل شوی چې په افغانستان کې به خپلو حمایت کوونکوته

۴مخ

په هوایي برید کې یو کلینیک له منځه لاړ

کابل باختر :

د کندهار ولایت د د امان ولسوالي روغتیایي کلینیک د امریکا د وحشیانه بریدونو له امله په بشپړه توګه له منځه تللی دي .

د امریکا او انګلیس یرغلګرو او جنایتکارو ځواکونو د کندهار ولایت د دامان ولسوالي په روغتیایي کلینیک باندې برید وکړ چې

۴مخ

دامریکا د کانګرس په یوه بله ودانۍ کې د ټاکونیي ښکاره شوي

خبري منابع :

په واشنګټن کې د ولسي جرګې د ودانۍ د پوستې په خونو کې دټاکو د ناروغي یا انتراکس نښې لیدل شوې دغه وایرس د فوریه ودانۍ کې موندل شوي چې دامریکې د کانګرس له ودانۍ نه څو اپارټمانه لرې موقعیت لري په یوه اوونۍ کې تقریباً په ۳۰ تنو کې د ټاکو د موندنو او د ... دمجلس د مشر په دفتر کې د ټاکو د میکروب د استول شوي لیک له پرانستلو وروسته ترسره شوې دی په ټوله امریکه کې ... اوسه

۴مخ

قاضي عبدالحی بیرته له اسلامي امارت سره یو ځای شو

کابل باختر :

قاضي عبدالحی دمخالفینو په لیکو کې د روسانو په لیدلو سره بیا دهغوی له لیکو څخه جلا او د سرپل ولایت د کوهستانانو په ولسوالي کې د اسلامي امارت د اردو له برخو سره یو ځای شو

قاضي عبدالحی د افغانستان د اسلامي امارت د مخالفینو په لیکو کې زیات روسي مشاورین او افرادولیدل چې د افغانستان

۴مخ

عکس : د هغه ودانۍ مکروریان کې دامریکا او برتانیې دهوایي ځواکونو د یرغل بېلګه .

د بوش سخاوت

کابل – باختر :

د امریکا واکدار جورج واکر بوش د خپل بې رحمانه سیاست له امله د یوې مرستندویې نړیوالې ټولنې غوښتنه چې د افغانستان په خلکو باندې دهوایي بې رحمانه بریدونو بندول او خلکو ته د مرستو رسول دي نه د ... منلې غوښتنه په داسې وخت کې ... کړې چې ... افغانستان خلک د امریکا ... وحشیانه بریدونو په ... کې لومړنیو موادو ته زیاته اړتیا لري .

۴مخ

په فلسطین د یهودو تجاوز نور هم زیات شو

د فلسطیني مجاهدینو او داسرائیلو د صهیونیستي یرغلګرو ترمنځ سختې نښتې هماغه شان دوام لري

د نړیوالو خبري منابعو د خبر له مخې د صهیونیستي رژیم عسکر د بیت اللحم او

۴مخ

د شانګهای غونډه ختمه شوه

باختر :

د اسیا دجنوب ختیځ د ټولنې د غړو هیوادونو د سوداګرۍ د وزیرانو غونډه پرون د چین د ولسي جمهوریت د شانګهای په ښار کې پای ته ورسیده .

په دغې غونډه کې د غړو هیوادونو ترمنځ اقتصادي همکارۍ ترغور لاندې ونیول شوه . د دغې غونډې ګډون کوونکو د افغانستان په اسلامي امارت کې د امریکا د وحشیانه بریدونو له امله د ملکي خلکو د تلفاتو په باب

۴مخ

په قلعه زمانخان کې له هغو ښارکورونو څخه یو چې دغربي یرغل په هوایي بریدونوکې له منځه وړل شوي .

د ایران روحاني مشر :

ایت ا... یزدي د امریکا یرغل یو ځل بیا وغانده

تهران د امریکا غږ باختر :

د ایران د قضائیه قوې پخواني رئیس ایت الله محمد یزدي او دجمعې د لمانځه خطیب پرون په افغانستان باندې دامریکا د متحده ایالاتو برید په تاریخ کې دبې ننګۍ تور داغ وباله .

۴مخ

دافغان غږ

اسمایي غره!

اسیر هجران

۳مخ

آهنګ زمانه

دآسیا زړه

سرمقاله

دلوی او بښونکي خدا«ج» په نامه

پرافغانستان غربي یرغل په نړیوال تناظر کې

دنیویارک او واشنګټن پیښو د سپینې ماڼۍ واکداران دومره ترهولي او ویرولي ۇ چې نېږدې دحکومت واګې ترې ګډې وډې او پر نړۍ له واکدارۍ څخه نا هیلې کښېنې ځکه خو یې د پیښو د عاملینو په تشخص کې له بیړې کار واخیست او لکه څنګه چې د امریکا تیر حکومت له خپل ولس سره د کړو وعدو په نه ترسره کولو کې ځه بهانه تر ګوتو او له اسامه بن لادن نه یې یو اتوم جوړ کړی ۇ نوی حکومت هم سمدستي له دلیل او سند

۲مخ

سرلوړي ،اتل او میړني افغانان به هیڅکله دکفري زبرځواکونو مړیتوب ته غاړه ټیټه نه کړي

شـــــريعت

دتاسیس کال :۱۳۷۴ هـ ش
دليکوال هيئت ترنظر لاندې:
مسوول مدير: مولوی اسدالله «حیدری»
مرستيال: ملامحمد ابراهیم «نبیل»
دیوې گڼې بیه په هیواد کی(۱۰۰۰)افغانی په پاکستان کی (۳)کلداری
تيلفون :۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات:۶۲۸۵۹
پست بکس : (٤۷۱)کابل افغانستان
جاری حساب : ٤۰۳۸۵ دافغانستان بانك مرکز
کمپوز:احمدجاوید«فقیری» چاپ : امارتی مطبعه

بې سیاله زبرځواک په وروستي پړاو کې

محمد شعیب «صابر»

په افغانستان کې د طالبانو د تحریک له پیل څخه بیا د امارت تر جوړېدو د افغانستان مظلوم ولس په دې هوسېږده چې الحمدلله د جهاد ثمره د شر او فساد له شرارت او فساد څخه وژغورل شوه،د هیواد په بیلابیلو سیمو کې خلک د طالبانو ورتگ ته سترگې په لاره و او د اسلامي امارت اردو هم د ورځو په تیرېدو سره پیاوړې کېده او د افغانانو د ارمان د پوره کولو او له شر اچوونکو څخه د هغو د خلاصون لپاره مخ په وړاندې روان و . لکه څرنگه چې افغانانو وکولای شول چې دخپل مقدس جهاد په برکت دوخت شوروي اتحاد ته ماتې ورکړي او نړۍ د دې خون خوري امپراطورۍ د وحشت له منگولو څخه خلاصه کړي افغانان هم په دې فکر ؤ چې د دې قربانۍ په مقابل کې به د نړۍ هیوادونه خپلې هر اړخیزې مرستې دې قهرمان ملت ته متوجه کړي خو داسې ونه شول له کله نه چې اسلامي امارت منځ ته راغلی او افغانانو وکولی شول چې بو سوچه اسلامي نظام د هیواد په اکثره برخه کې قایم کړي د دې نظام له جوړېدو سره سم د نړۍ بو بل ځواک [illegible] سر را پورته کړ او افغان مجاهد ولس ته یې غابې چیچل پیل اوله دوی سره احسان کوونکی دغه قهرمان ملت ته یې د تروریستانو خطاب وکړ او مختلفې بهانې یې وړ ته جوړې کړې او دادې د وله بېرو وسایلو له لارې یې نړۍ والو ته همیشه په بوره ... نامه بلقېبوي،نړۍ هم د دغو مداریانو په چیغو سره پرهیزي چې «ترکاسي لاندې نیم کاسه دی » خو لکه څرنگه چې نړیوالو د روسانو په برید خپله خوله لتراي خوځولې نو د تنني مفاکي امریکا په مقابل کې خو په هیڅ وجه څه نشي ویلای، په تېره بیا چې بوش نړیوالو ته داسې اخطار هم ورکړی دی :«کومه د نړۍ هیوادونه له امریکا سره ملگرتیا ونه کړي هغوی هم د امریکا دښمنان دي ». څوک به وي چې امریکا ته ووایي چې «شرومې دې نړوي دي» چا دفلسطینیانو چیغې واورېدې چې تقریباً دا نیمه پېړۍ په وینو کې لمبېږي او څوک دي چې د مظلومانو له لارې د هغوی چیغې نړیوالو ته ورسوي .امریکا غواړي چې په افغانستان تجاوز ته دوام ورکړي او د دوی دا وحشت دې دمظلومانو له لارې څخه ته خپروبړي ترڅو نړیوال د دوی له تیرېږو او ماتې څخه بې خبره وي .

په بحراني شرایطو کې چې د افغانستان مظلوم ولس ورسره لاس او گرېوان دی له اسلامي نړۍ څخه داسې تقاضا کېده چې د امریکا تجاوز وغندي او د افغانستان مجاهد ولس ته لاس ورکړي خو داسې ونه شول له نوو څخه دمېخه بې په افغانستان باندې د امریکا د احتمالي برید هرکلی وکړ او دخپل هیواد فضا او اراضي یې په اختیار کې ورکړه او هر بیوه له پیل څخه زیات د امریکا دتجاوز هرکلی کې گرندیتوب وکړ ترڅو وکولی شي چې له امریکایانو څخه زیات کریډت،امتیاز ترلاسه کړي. خو دغه مسلمانو هیوادونو د خپل پروردگار لاکلام چې فرمایي : ترجمه :« یهود او نصارا له تا څخه نه رضا کېږي ترڅو چې د دوی دملت پېروي ونه کړي » عبرت نه دی اخیستی .

افغانان به الله جل جلاله له دې امتحان څخه هم بریالي را وباسي ځکه چې د دې ولس توکل پر الله جل جلاله او سلاح یې د امریکایانو دجنگي وسایلو په مقابل کې ایمان ، تقوا ، کلک عزم او جهاد دی .

څرنگه چې د انگلیس په مقابل کې په لوی عزم جنگېدل او بیا دا اتشناء روسانو تکرار کېږه د واړو ستگیته ماتې خوړلی دوی په خپلې ماتې اعتراف کړی .روسانو چې د افغانانو له خوا ماتې وخوړله او د نیستېدو په حال کې یې د افغانانو خاوری ته سلامي کوله ویل یې چې له ربعمو لوبه اشتباه ... اوس به که خدای «ج» کول بوځل بیا د امریکا وحشي استعمارگرو ته هم داسې ماتې ورکړل شي چې بوله نړۍ یې له شرارت څخه په امان شي ځکه د هر استکباري زبرځواک ماتې له همدې خاورې پیل او لکه څنگه چې وایي: هر هغه نړیوال دیکتاتوري قوت چې دغرور وروستي حد ته ورسېږي او بې سیاله شي دهغه زوال حتمي کېږي .دغه راز د امریکا نشي یکه تازي هم د دغه زوال زېری راکوي .

د مرمقالې پاتې برخه

پرته د پیښې اصلي مجرم وباله او په وچ زور یې د سپارلو غوښتنې ته تمه شو .

امریکا د بیلابیلو اهدافو او په سیمه کې د دخالت لپاره ښه پلمه ترلاسه کړه خو هغه څه چې پر افغانستان یې د برغل لپاره په کار اچولي ؤ او یا یې په عمل کې کومې پایلې پرې ترلاسه کړې ؟اوس په نړۍ کې د سیاسي تفکر او ذهنیت لپاره په زړه پورې او نه اټکل کېدونکی بحث گرځېدلی .

په دې برخه کې د په لاره اچول شوي تبلیغ له مخې داسې فکر کېده چې د امریکا حکومت به په سیمه کې د په نښه شویو گټو ترڅنگ هغه څه چې پر افغانستان یې د پوځي برغل له لارې غواړي ژر ترلاسه کړي . خو پر افغانستان له دوو اوونیو نظامي برغل وروسته دغه ذهنیت خپل اټکل غلط تعبیروي او په افغانستان کې یې اوسنی واقعیت ته چې د برغل ماتې یې بللی شو بیلگې هم په گوته کړې:

په لومړي سر کې یې تبلیغاتي کمپاین ته زور ورکړی ؤ خو عملاً پرې کومه پایله مرتب نه شوه آن تر دې چې د افغانستان اشغال او بیا د خپلو لاسپوڅو په قدرت کښېنول یې د دوو ورځو خبر بللی ؤ دغه راز یې د نظامي حملې ترڅنگ د عامه ذهنیت د اړولو لپاره د بشري مرستو اعلانونه او له هوا نه د خوراکي توکو غورځول له سخت منفي نړیوال غبرگون او بدې نتیجې سره مخ شول په تېره بیا چې د خوراکي توکو غورځول یې له ماینونو په ډکو ساحو کې ولیدل شول ددې تر څنگ دبشر تند اخطارونه او هیڅ راز خبرو ته د نه حاضرېدو له ډگو وروسته بیا خبرو ته تیارۍ ټول هغه څه وچې اوس یې نړیوال تحلیل کوونکي د امریکا ناکامي بولي او وایي چې د امریکا هغه پټ راز او ځواک چې د نورو قوتونو سترگه پرې سوځېده اوس ښایي هغوی ته یا خو بې معنی وي او یا یې ترلېږه ډېر حساب پرې ونه کړي .

له بل پلوه د امریکا او متحدینو هغه پروسه چې د پراخ بنسټه حکومت په نامه یې له روم نه پیل کړې هم له ناکامي او ستونزو سره مخ ده او د هغو نیمگړتیاوو له امله چې له یوې خوا یې کې توکم پالنې ته لمن وهل کېږي او له بلې خوا د هغو ډلو د گډون له امله پرې نیوکه کېږي چې په جنگي او جنایتکاره فعالیتونو لا اوس هم تېنگار کوي کومې نتیجې ته نه شي رسېدلی او په دې برسېره یې کې د توافق او یو والي کومې نښې هم نه لیدل کېږي .

لنډه داچې ډېر نړیوال تحلیل کوونکي او د نظر خاوندان اوس په دې عقیده دي چې پر افغانستان د امریکا او متحدینو نظامي تیری او په نړۍ کې د عدالت تر نامه لاندې په کار اچول شوي بیلابیل پلانونه له ناکامي سره مخ دي او دغه ناکامي د امریکا لپاره تر بل هرڅه لوی او ستر گوزار دی .

امریکا و اداره ائتلافی

[illegible]

امریکا بعد از کسب استقلال از انگلستان خواست تا با استفاده از روش برطانیه به کشور گشایی و بهره برداری نا جایز از کشور های ضعیف و تحت تسلط در آوردن آن به منظور ، تامین برخی اهداف اقتصادی، سیاسی وجاه طلبانه خویش استفاده کند و اکنون این روش با تجاوز نظامی در کشور ما در حال تطبیق از طرف امریکا می باشد .

اگر ما هیناً دیده شود اهداف امریکا از طریق بهانه جوئی ، تروریزم سازمان یافته دولتی و نصب افراد دست نشانده خویش یکی پی دیگری تحقق می یابد، بهانه جوئی های امریکا بنام اسامه امروز پیدا شد و اگر به تاریخ گذشته دیده می شود که امریکا هیچ وقت به این ملت مفید نبوده و چون زهر به عوض دوا به مردم ما استعمال شده است و هر روز یك بهانه علیه این مردم داشته و با هر مقام که از جانب حکومت افغانستان ملاقات کرده ، یك طرح خصمانه پیش کش نموده تا به گونه از مفیدیت وهمکاری به این کشور خود را کنار کشد تروریزم سازمان یافته دولتی «دهشت افگنی و آدم کشی توسط سازمان «C. I. A» یکی از اقدامات دیگر سیاست «نیرنگ بازی» امریکا در مقابل مردم ما بوده ومیباشد ، استخدام جواسیس و ترور افراد در داخل کشور وشخصیت های ملی در داخل وخارج کشور ، محو نظام وثبات سیاسی ، اقتصادی کشور ، تابعیت دادن به افراد جنایت کار در داخل امریکا ، استخدام روشنفکران در تحقیقات نظامی و اتومی و دو ها پلان مخفی و شوم امریکا بیانگر سیاست تروریزم سازمان یافته دولتی اداره امریکا می باشد .

اکنون که حملات نظامی امریکا علیه مردم و تاسیسات عامه و مراکز خدماتی بشری ادامه دارد ، خود اثبات تذکرات فوق می باشد .وی در نظر دارد تا حکومت ائتلافی «ایدیا لوژي های مختلف غرض کسب قدرت در مدت کوتاه» در کشور ما با نصب افراد دست نشانده خویش ایجاد وجنایتکاران که برسر این ملت راکت زدند ، فساد کردند هست وبود این کشور اعم از نظامی وصنعتی را به یغما بردند و به بیگانه گان فروختند ، دوباره تحت نام اداره ائتلافی بر سر قدرت آورده و امریکا منحیث قوماندان حرب شان از آنها استفاده سوء نماید در این مورد فراخوان امیرالمؤمنین از مجاهدین و امت مسلمه افغان قابل درك است ، اگر افغانان واقعاً نظام می خواهند باید از اسلام ونظام اسلامی دفاع بی هراس نمایند و برحیله گری های دشمنان مکار پی ببرند ناخدا نخواسته روزی بر سرشان نیاید که هم آزادی شان سلب شود ، هم در دام بلای کفری غرق گشاه وبی امانی غرض کسب منافع امریکا و متحدین کفری اش شوند آنگاه پشیمانی سودی نخواهد داشت

د سولې ستوري او دنوبل جایزه

م . ش . ب

په دې نږدې ورځو کې سر له بېلابېلو منابعو او دغه راز نړیوالو جمعي وسایلو څخه واورېدل چې شاغلی کوفي عنان ته د نوبل جایزه د دې لپاره ورکړل شوه چې په نړۍ کې یې د سولې لپاره لاره هواره کړې خو کومه لاره چې کوفي عنان د سولې د ټینگښت لپاره په نړۍ کې هواره کړې نه په سترگو، نه په غوږو او نه د نورو حواسو په وسیله حس کېږي او په خپله کوفي عنان صاحب هم په دې پوه نه دي چې د کومې سولې لپاره یې لاره هواره کړې . هغه ته هم د دې جایزې خبر هغه وخت ورسېد چې د سهار په پنځو بجو یې شیرین خوب ویده ؤ او د عاجل تیلفون له لارې ورته د دې جایزې خبر راغی او له ډېرې وارخطایۍ وروسته یې پرې خوشحاله شو .

ښاغلي کوفي عنان خو تر اوسه پورې نه دي لیدل شوي چې د نړیوالې سولې په لاره کې یې په رښتیا بو غښتلی گام ایښی وي او په تېره بیا بوې نتیجې ته رسېدلی وي . که چېرې د نړۍ د هیوادونو اوسنی حالت ته خېر شو څرگندېږي چې ښاغلي کوفي عنان په دې دوو دورو کې چې د ملگرو ملتونو د سرمنشي د ندې په غاړه لري د نړیوالې سولې په لاره کې هیڅ راز لاس ته راوړنې نه لري .د فلسطین ،کشمیر ،چیچن ، عراق او داسې نورو هیوادونو د سل گونو انسانانو په مال او سر باندې تجاوز کېږي .نه یوازې داچې د هغوی هیڅ راز ملاتړ نه کېږي بلکې د نړیوالو منل شویو روا حقوقو څخه یې هم نړیواله ټولنه سترگې پټوي .د همدې ادعا د ثبوت لپاره دادې په هغه ملت چې دوه لسیزې کېږي د اور په لمبو کې ورېتېږي بیا یې هم د نړۍ د سفاکي او استعمارگرو ځواکونو امریکا تجاوز ته قانوني مشروعیت ورکړي . د سالم عقل خاوندان دې نتیجې ته رسېږي چې ښاغلی کوفي عنان د بد نامي امریکا غوښتنو ته سرټیټ نبولي « هرڅه چې بادار وایي هغه صحیح دي » ځکه چې دې خوبي د دویم ځل لپاره د ملگرو ملتونو سازمان د سرمنشي په توگه وټاکه، که نه نو په اصل کې خوداخل د آسیایي هیوادونو وار ؤ چې د ې مقام ته ورسېږي .

خو امریکا او انگلیس په دې پوه ؤ چې بیا به داسې سرکوزي په گوتو ورنشي چې د دوی هرې ناوړې غوښتنې ته «OK» ووایي .

د افغانستان د مظلوم ولس په لس گونو کسان هره ورځ په شهادت رسېږي او په هیواد یې تېری کېږي په تېره بیا چې دې ملت ته بله بدبختي هم ور په برخه شوې او د بشر دحقوقو مدافع وکیلان هم اوس ویده شوي د کوفي عنان جیبو ته خوله امریکایي ډالرو نه د نوبل جایزې په نامه ډک شول او د بشر د حقوقو وکیلانو ته خو تر اوسه پورې کومه جایزه هم نده ورکول شوې چې دوي ولې خپل غږ نه پورته کوي .لنډه دا چې امریکا ښاغلي کوفي عنان په مردارو بوخت کړی او امریکا له دې فرصت نه په استفادې سره خپلو سیاسي اهدافو ته ځان رسوي . خو هغه څه چې موږ پرې باور لرو او د وژونکو وسلو په مقابل کې یې په مرگ خوښه عقیده راته الهام کوي وروستي برې دي ځکه نو د امریکا د غرور ماتې ته افغانستان لبکل شوی نه ویتنام .

چی کشور دافغانانو معطر کا
دهربیت مصرع می زلفی دخوبان کړی

دشعر او ادب پری

اسمایی غر!

شاد عالم «ځپاند»

چـــی مـضبوط او پــه قوت راته ولاړیی
هم تاریخ یی هم یـــادگار اســـمایی غره
ستاله مخی نه تیر شوی ډیـــه او بـــددی
هم عادل او هـــم غـــدار اســـمایی غره
سـل شـاباس دی ستاپه عزم او ثبات وی
پاتی نه یـــی لـــه قـــطار اســـمایی غره
دنـړی دحـــوادثـــو لـــه طوفا نه
بـــی وتـــلی پـــه بـار باراسمایی غره
چـی بیـــرغ دآزادی دی پـــه ســـر رپی
خدای دی ستـــاوی مدد گار اسمایی غره
چی داستاشان او شوکت ته سپـــک وگوری
بیابه وخوری کـلـک گـــذار اســـمایی غره
کانی بوټی دی کیـــمیادی هـــرافغان ته
دځپاند دزړه قـــــرار اســـمایی غـــره

اسیر هجران

حمید

بنـــالیـــدم زغم بس از دل تـــنـــگ
درودیوار نـــالـــیدبادل هـــمرنگ
نکردی نالـــه ام را گـــوش ای جـــان
گمان درسینه ات جـــای دل است سنگ
بنالم زارچون مـــرغ شـــب هـنگام
که دل بنداست به پیچ زلـــف شـبرنگ
زبس ازدیده ریختم اشک حسرت
شد دامان من باخـــون گـلرنگ
زخود بیگانه ام مـــانند مـــجنون
زهرسو طفلکان باردسرم سنـــگ
مرامگـذارای سـرخیل خـوبان
به دردو رنج وهـجران گـشته درچنگ
«حمید» برآرزوی پـــای هـــجران
سـفربه طرف کویت کرده آهنگ

آهنگ زمانه

محمد حکیم «نظری»

چـــرا آهـــنگ مـیـــدارد زمانه ؟
نمیـــخوانـــد امروز عاشـــقانه
چرا تار حـــوادث عـــقده دارد ؟
بـــرای مشـــکل جـــور زمـــانه!
چرا بیچاره گان بیچاره تـــر گشتند
چرا آواره گان را ایـــن فـــسانه ؟؟
چرا ؟ درجای گـــل خون روید اینجا
چرا دارد نـــشان ظـــالمـــانه ؟
چرا ؟ گل در چـــمن چنـــدی نخندد
چـــرا بلبـــل نمیـــخواند ترانه ؟
چرا ؟ از عـــدل وداد عـــالـــم افروز
تهی شد مـــنصب و حکم و خزانه ؟
چرا دستـــی نمیـــگیرد به دستـــان
کـــه دســـتان را بـــرآرد وارثانه
چـــرا نارد ســـما با آب داریـــش
زمین نالـــد برایـــش عـــا جزانه
چرا ؟ اشک یتیم خو نـــست وخونست
چـــرا ؟ مـــا در بـــگرید مادرانه؟
چرا ؟ در آســـمان تا ســـعادت
رود استـــاده افـــغان یـــگانه؟
چرا ؟ گلزار افغان آتش افـــزاست !
که مـــیسوزد هـــمه کنج و کرانه
الهٰـی در حـــق مـــا لطـــف فرما!
وگـــرنه : این پـــسندیم بی کـــانه

د افغان [illegible]

افـــغان یـــم مسلمان یـــم قهرمان ددی ملت
[illegible]
زه کړي مي زانګوکي درس ده ني مدت دي
[illegible]
حږي او ليکمرغـــي مسي ده ارمان ددي [illegible]
مـــنونـــکي دقـــانون دپـــاک قرآن ددي ملت
دی خاوره کي چي [illegible] دي [illegible] دی
[illegible]
له حق نـــه قـــربان شوي زړو ارمان ددي ملت
مـــنونـــکي دقـــانون دپـــاک قرآن ددي ملت
مات کړي مې په هندکي سومنات غــــونډي بتان
هر وخت [illegible]
یادیـــږي پـــښت شـــکن مرد افغان ددي ملت
منونکي دقانـــون دپـــاک قـــرآن ددي ملت
به ســـوله ،وروروَلي زمونږ شعاردي تړي خاربرو
وحدت زمونږ هدف [illegible]
لـــه منـــځه به وباسو بدخواهـــان ددي ملـــت
منونکي دقانـــون دپـــاک قـــرآن ددي ملـــت
وفاکړه «[illegible]» لـــه دي خپل وطن خاربره
[illegible]
چي [illegible] ددي ملت
منونـــکي دقـــانون دپـــاک قرآن ددي ملت

داسپا زړه

داکتر تکل

پـــه زړه ســـوي ارمان غزل غزل شو
لولپه شـــوتـــول جهان غزل غزل شو
دغـــزالـــو سترگووارډي خرېدارو
نن په سترگو مي جانان غزل غـــزل شو
هره اوښکه مي يوه مصرع دبيـــت شوه
په ماتـهردغم داستان غـــزل غـــزل شو
درباب دترنگ کـــيـــسه ده نورڅه نه دي
مـځکه مينه ټول رومان غزل غـــزل شو
دشهيد هره سلگي مي هېره نه کـــړي
گوره مشره! ستراففان غـــزل غزل شو
دآسپاله سوري زړه نه وپـــښي څـــاڅي
تن بي روحه په څه شان غـــزل غزل شو
دلرغوني تاريخ باب مـــي رانه پټ کړي
زړه مي چاودي تـهرزمان غزل غـــزل شو
زه تکل ورته حـيران يم چي داڅنـــگه ؟
چاته سود چاته زيان غـــزل غـــزل شو

دپیریو سوله

صالح محمد «صالح»

ښیرې ،ترخې ، خبرې می نغمه کی ، زیرو بم شی
دی ژبی خومې یاره !دشپیلیو خـــوی اخیستی
په کرس کی چی ماتیرې اوسیلی پری سینه موبنی
وعدی مودلر مخو دبنگریـــوخـــوی اخیـــستی
داوبنـــکوپیښـــکی اروی نیـــزارته دبنـوچـــی
تناکو می دسترگو دکیږدیـــو خـــوی اخیـــستی
په ځالو دغالـــبو زو دی اوبنـــتی دزروزغـــری
کتودی ددوو سترگودگـــولـــیو خـــوی اخیستی
خاونده ! سربه څومره دگودرسنـــدری مـــری وی
تپی چی مړاوی ،مړاوی دسـلگیو خوی اخیستی
چی شنا ختو ته موراشـــی لانـــاوخته پرمور نه ده
دی سـولی مـــوملـــگرو! دپیریو خوی اخیستی

تصـــبیونه

به مبارکی اوازه د تصـــبیونه [illegible] کیږي
زمابرخه [illegible]
طاعون مرض راغلي شاړ لي لـــه دي وطن دري
[illegible]
زخمونه ئي [illegible] ئه ئي کـــږي
قسمت په تنداره [illegible]
داونبکوباران اوري [illegible]
دارې [illegible] په تاوی [illegible]
درحم اوعاطفي کدي [illegible]
کاروان په تيند کو دي [illegible]
«دروېشه» ستاخو برخه لادوخته [illegible]
زمـــونږ په وطن گوره چي [illegible]

اعـــلانات

فـواد فـرزنـد میـرمحمـد ســـررر دکـــان ۳۳ واقع مـکروریان اول را مـــاهانه مبلغ یك ملیون وچهارصدو پنجاه هزار افغاني براي مدت دوسال طور قرارداد بکرایه میگیرد.

مـــزایده کننده گـــان درخـــواست هاي خـــویشـــرا بمدیریت اسناد وارتبـــاط ریاست تدویر ومـــراقـبت مکروریانها واقع بلاك ۲۳ مکروریان ها بـــسپـــارند وخـــودشـــان از تاریخ ۱٤۲۲/۷/۲۳ تـــاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میـتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

موازي یك جریب ودوازده بـسوه زمین متروکـه واقع قریه بي بي مهرو«ع» درسال ۱٤۲۲ براي مدت سه سال به اجاره داده میشود.

اشـخاص ومـوسسـاتیکه خـــواهش اجـاره گـــرفتن آنراداشتـه باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت املاك ولـسوالي ده سبز بسپارند وخـــودشـــان از تاریخ ۱٤۲۲/۷/۲۳ تـــاده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد.

***

وزارت تحصـــیلات عـالي مقداریکهزاروودوصدتن چوب بلوط خشك پوستداررا في کیلو مبلغ دوهزار افغاني وشصت تن چوب پوستدار خشك ارچه را في کیلو مبلغ دوهزاروپنجاه افغاني باجمعه خان فرزند غلام سرور رئیس شـرکت نوي شـاهین لمتد قراردادمینماید.

مناقـصـه کننده گـان درخـواست هاي خـویشـرا بمدیریت خدمات ریاست اداري وزارت تحـصـیلات عـالي بـسپارند وخودشان از تاریخ ۱٤۲۲/۷/۲۳ تـــاده روز مـراجـعه نمایند شرطنامه راملاحظه کرده میـتوانند دوفـیـصد تضـمین اخـذ میگردد.

***

مـوازي یك جـریب زمین متروکه واقع قریه یکه توت درسال ۱٤۲۲ براي مدت سه سال به اجاره داده میشود.

اشخاص ومـوسـسـاتیکه خـواهش اجـاره گـرفتن آنراداشتـه باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت املاك ولـسوالي ده سبز بسپارند وخـــودشـان از تاریخ ۱٤۲۲/۷/۲۳ تـــاده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میگردد.

***

موازي چهار جریب زمین امارتي واقع قریه یکه توت براي مدت سه سال از ساله ۱٤۲۳ بـــه اجـــاره داده میـشود.

اشخاص ومـوسسـاتیکه خـواهش اجـاره گـرفتن آنراداشتـه باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت املاك ولـسوالي ده سبز بسپارند وخـــودشـــان از تاریخ ۱٤۲۲/۷/۲۳ تـــاده روز مراجعه نمایند تضمین اخذ میـــگردد.

***

مرازي دوزاده جریب زمین متروکه واقع قریه یکه توت درسال ۱٤۲۳ براي مدت سه سال به اجاره داده میشود.

اشخاص ومـوسسـاتیکه خـواهش اجـاره گـرفتن آنراداشتـه باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت املاك ولـسوالي ده سبز بسپارند وخـــودشـــان از تاریخ ۱٤۲۲/۷/۲۳ تاده روز مراجعه نمایندتضمین اخذ میـــگردد

***

احـمد علي فرزند فتح محمد حصه غربي دکان تحت بلاك ۱۰۷ واقع مکروریان دوم را ماهانه مبلغ یك ملیون و سه صدو ده هزار افغاني براي مدت دوسال طورقرارداد بکرایه میگیرد.

مـزایده کننده گـان درخواست هاي خویشرا بمدیریت اسناد وارتبـاط ریاست تدویر ومراقبت مکروریان [illegible] مکروریان [illegible] وخـودشـان [illegible] ۱٤۲۲/۷/۲۳ تاده [illegible] مراجعه نمایند شرطنامه [illegible] ملاحظه کرده [illegible] تضمین اخذ میگردد.

***

به اطلاع [illegible] فرزند دین محمد [illegible] ولایت مزار شریف [illegible] فیصله [illegible] تاریخ ۱٤۲۲/۷/[illegible] روز [illegible] وحقوق عامه [illegible] ولایت کابل [illegible] درخصوص [illegible] تـحــــواهـند [illegible]

نړیوالو مرستندویه . . .

اوکلتور وزیرمحترم مولوی قدرت الله جمال دشریعت ورځپانې خبریال ته داسی څرګند ونی کړی .

لویدیځی ټولنی په تیــره بیــا دامریکا متحده ایالاتو انګلستان او دهغوی متحدینو دافغــانســتان دخاوری په مقدس حریم باندی په پوځی برغل سر بیره چې دامریکا دمتحــده ایالاتو او انګلســتان دهوایی ځواکو نو دډیرو پرمخ تللو الوتکو له خواترسره کیږی ، دساړه جنګ کمپاین هم پیل کړی په دی لړکی یی داسی پراخ ، بی بنســتـه دروغـجن او بی لاری کـــورنکی تبلیغــات پیل کړی چې ګــواکی دافغــانــستان داسلامی امارت دلوړ پوړو مقاماتو او دطالبانو داسلامی تحریک په لیکوکی دخپل منځی اختلافاتو له وجی درزپیداشوی او دغــه اخــتــلافــات دهری ورځی په تیر یدوسره خپل اوج ته رسیږی .

دغـه راز دوی دافـغـانســتان په اسلامی امارت باندی تورلګولی چې تروا کمنی لاندی سیمو کی یی د نړیوال ســره صلیب او نورو بهرنیو مرستندویو موســســو لیږدوونکی وسیلی او دلومړنیو موادو زیرمی خـوندی نه پلکی له ګــوابی ســره مــخــامخ دی او دغــه راز نوری پروپاګنډی یی په لاره اچولی ترڅو په دی وسیله دافـغـانسـتان دمجاهدولس ذهنیت دخپلی خوښی اسلامی نظام څخه دبوه داسی څه په لور راواړوی چې تراوسه یی لاهویت په بشپړه توګـه جوت نه دی او په ښکاره ډول څرګندیږی چې دامریکا او انګلستان په لاسو جوړشوی کوم داسی جـــوړښت به وی چې خـــدای مکړه دافــغــانانو ټول ملی ، مــذهبی ، تاریخی او کلتوری ارزښتونه به دخپلو بادارانو (امریکا او برتانیې) له سره څار کړی .

مـــوږ په داسی حـــال کی چې دلویدیځو اطلاعاتی وسایلو دغـه راز له شرمــه ډک او بی بنـســتـه تبلیغـات او پروپاګنډی په بشـپـړه توګـه ردوو او دعــامــه ذهنیت له ګډ وډولو پرته یی بل څـه نه بولو یوځل بیا خپلو هیوادوالو او دغـه راز ټولو نړیوالو ته اعلاموو چې دافغانستان اسلامی امارت په پوره ځواکمنی سره دخپلی واکمنی په سیمو باندی په بشـپـړه توګــه مـسلط دی .

دافغانستان داسلامی امارت دوسله والو ځواکونو ترمنځ ټینګ انظباط او دسپلین موجود او په پوره یووالی او یو موټیتوب سره دهیواد دځمکنی بشپړتیا او له اسلامی نظام څخه ددفـاع په سنګرکی هرراز سرښندنی او ځان تیریدنی ته چمتو دی ، موږ بشپړباور لرو چې دافـغـانسـتان داســـلامی امــارت ټول وسله وال ځواکونه په پوره یووالی او پیوستون سره ددی توان لری چې دخپل هیواد اوملي نواميسو ننګه وکړي او هر یرغلګر ځواک ته چې دی خواته کاږه راوګوری غـاښ مـاتوونکی ځواب ورکړی.

داچې لویدیځی منابع دغه راز بی لاری کوونکی تبلیغات په لاره اچوی هدف یی یوازی او یوازی دادی چې دهغـو بشری مرستـو درسولو په کـارکی خنډونه راپیدا کړی او هغـه ودروی چې نړیوالی مـرســتـندویی ټولنی یی په سختـو حالاتوکی اړواو بیوزلو افغانانو ته رسوی.

په هرصـورت کـوم تبلیغات چې له لویدیځـو منابعـو څخـه او ریدل کیږی حقیقت نه لری او حقـیـقت خودادی چې دافغـانسـتان اسلامی امـارت په پوره یو مـوټی توګــه پرحـالاتو مــسلط او دهیــواد والو دسراومال د ژغـورلولپاره هرراز قربانی ته چمتودی .دغه راز دبهرنیو مـرستندویه مـوسسـو شـتـمنی ،لیږدوونکی وسیلی او نورمواد په بشـپـړه توګـه خـوندی او هغـو ته داسلامی امارت تروا کمنی لاندی سیـمـو کی هیڅ کـوم خطر نه دی متـوجه یوازی او یوازی د I.M او صرف د موسسو موټر دمسولو ادارو له خوا ضبط شوی له دی پرته که دنورو موسسو موټر اخیستل شوی وی هغه صرف ددی لپاره چې ددغـو موسسـو کارکوونکی نشتـه ځکه نودخوندی ساتلو په مـقـصـد او ددی لپاره چې محفوظ وی دمسولو امنیتی ادارو له خـوا بیـــول شـــوی دی. سهین

غربي برغل . . .

مظلومو خلکو باندی دویمی اوونې ته داخل شـویدی چې دهغـو په بهیر کی زمـوږ په سلګونو تنه مظلوم او بیچاره هیوادوال په شهادت رسیدلی دی .

دمزارشریف د . . .

راکــړ: د اســـلامی اردو مـجـاهـدینو د مـارمـول ولســوالی د امـریکایی او روسی مـزدورو ملیشـو له شته والی څخه پا که کړه چې په افــغـانســتـان باندی د امــریکا او انـګـلیـس د یرغلګرو هوایی پوځـونو د بمباریو له سختیدو څخه یی په ګټې اخیستنی سره د دغی ولسوالی په مربوطاتو کی په پوځی تحـرکـاتو لاس پوری کړی ؤ په بشپړه توګه پاکه کړه .

د اســـــلامی اردو د مـجـاهـدینو د تصـفـیـوی عـملیـاتو په بهیـر کی چې دمـارمـول ولـسـوالی په شاوخوا کی د دښمنو ملیشو پرضد ترسره شول یو شمیر روسی وسلی او مـهمـات چې په دی وروستیو وختو کی د ملیشـو مشـرانو له خپلو

په‌زرو مکرورپانوکی یو بلاک چې په‌روانو هوایي بریدونوکي بي‌ ... لـــــــدلی .

بادارانو څخه ترلاسه کړی وی په غنیمت نیولی دی په دغـو عـمـلیـاتو کی یو شـمـیـر مزدوری ملیشی وژل شوی او ټپیان شویدی او یوشـمـیر نور یی داســـــلامی اردو د مـجـاهـدینو د قطعـاتو او جزوتامونو له خوا په اسارت نیول شوید ی.

مسکو دمخالفینو . . .

په روانه او راتلونکی میاشت کی پریمانه وسلی ورکړی .

ددغـو وسلو لومړی برخه چې ټانکونه مـحــاربوی ماشینو نه سپکه اونوره درنه وسله ده لادوخـتـه شـمـالی ټلوالی ته سپارل شوی .

دغه ټولی وسلی او اړونډې پر زی چې بیـه یی له دیرشـو څـــخــه تر پنـځـــه څلویښتـو ملیـونو ډالروته رسیږی دروسیی حکومت یې په افـغـانسـتان کی یاغی ډلوته په وړیا توګه سپاری.

دهمدی کړو د دوام په نتیجه کی په تاجکستان کی دمیشـتـو روسی پوځونو یو مشر جنرال دیوی ویناپه ترڅ کی دافغـانسـتان شمال دروسیی دنفوذ سیمه وبلله او زیاته یی کړه چې دوی له همدی کبله دغی ټلوالی ته دومـــره وسلی او پوځی مهمات رسولی چې دهغوی ټولی اړتیاوی پوره کوی او په دی برخه کی د بل چا مرسـتـو ته اړتیـا نه لیدل کیږی .داخبری په داسی حال کی کـیږی چې دا دوه ورځی د مخـه د روسیی پارلمان د افغانستان دجګړی مـوضـوع په خپلی یوې داسی پټه غونډه کی څیړلی چې اجندا یی لا تر اوسه پټه ساتل شوی ده .

دامریکا دکانګرس . . .

اســـتـه تنـه دغی تـاروغی نیولی دی .

په‌هوایي بریدکي . . .

له دی امله د دغــه کلینیک پنځه تنه روغتیایی پرسونل او په بســـتـــر کی شــامـل تاروغان شهیدان شول .

په دغــــه کلینیک باندی دامریکا او انګلیس د برید له امله یو شمیر کارکوونکی ټپیان شو ی او ویل شویدی چې دغه کلینیک په بشپړه توګـه له منځـه تللی او له خاوروسره برابر شویدی .

د امریکا او انګلیس یرغلګر او جنایتکار ځواکونه چې په افغانستان باندی یی دتیری د دویـمـی اوونـی پـیـل دی زیاتره یی په ملکـی او پوځی ټولګټو تاسیـــسـاتو ،روغـتـیـایی مـرکـزونو ،مـخـابراتی ،د بریښنا په شبکو او نشراتی برخو باندی برید کـــړی چې له دي امله تاسیـــسـاتو تـه زیات زیان رسیدلی دی .

قاضي عبدالحي . . .

د اسلامی امارت په ضد په جګړه کی مـخـالفین رهبری کوی .

دی چې په تیره اوونی کی له مـخـالفینو سـره یوځـای شـوی ! بیـــا د مـــزدورو مخالفینو له لیکو څخه جلا او ټینګار یی کـــړی چې د ژوند تر وروســــتی سلګی پوری د اســـــــــلامی امـــارت د اردو لــــــه قطعاتو او جزوتامونو سره یوځـای د مـخـالفینو او د امـریکا او انګلســتان د یرغلګرو پر ضد جنګیږی .

.ده داســـلامی امـــارت د مخالفینو سیاست او تګلاره او په افـغـانســتان باندی د امـریکا او انګلســتان د وحشیانه بریدونو څخه ملاتړ وغــــــــاتـده او وی ویـــــــل: دمـخـالفینو له لیـــکو څخه زمـا جلا والی د دوی په لیکو کی د روسانو موجودیت دی ځکه روســـــــان ؤ چـــــــې زمـوږ هیـــواد یی وران کـــــــــری دی .

په فلسطین دیهودو . . .

جنین بـــ روس به هم بردی شریدی .

د فـلـسـطـیـنـیـــــانو او صـهـیـونـیـســتی یرغلګرو ترمنځ د تیرو څلیرویشتـو ساعـتونو په نښتـو کی اته تنه فلسطینی مـجـاهدین شهیدان شول .

دا په داسی حـــال کی ده چې د فلسطینیانو خپلواکی اداری د منځنی ختـیـځ د حـــالاتو په باب د عــربی هیوادونو د مشرانو دغونډې د جوړیدو غوښتنه کړیده .

د مصر دبهرنیو چارو وزیر احــمــد مـــاهر د تیــرو څلیرویشتو ساعتو پیښو ته په‌اشـــــاری ســـــرد اســـــرائیل د فلسطینیانو پر خلاف په تروریستی سیاست تورن کړیدی .

دشانګهای غونډه . . .

اندیښنه څرګند ه شویده .

تبصره

امریکائیان د بمونو او راکټونو په اورولو سره نشی کولای د مسلمانانو ټینګه عقیده له منځه یوسی او خپل اهداف ترلاسه کړی په دی ورځو کی د امریکا جمهور رئیس جورج ډبلیو بوش د افغانستان د اسلامی امارت دوراندیزونو د بر کیږجن ځوابونه ورکړی او یوازی د خپلو نامشروعو غوښتنو د تحصیل غوښتنه کړی . جورج ډبلیو بوش وبلی چې موږ هر ډول خبری ردوو او هرڅه چې زموږ غوښتنی دی هغه باید ترسره شی .امریکائیان خپل صنعت او ټکنالوژی ته مغروردی او داسی فکر کوی چې د هر ډول موخو لاس ته راوړل یوازی زور او بم اچول دی .دا یو واقعیت دی چې پر مخ تللی ټکنالوژی د کروز راکټونه او پرمخ تللی بم اچوونکی الوتکی چې په زرګونو کیلو ګرامه بمونه وړی د یوڅه وخت لپاره امریکائیان برلاسی نیبی خو نا ممکنه ده چې له دی لاری خپلی موخی لاس ته راوړی ځکه په دی جګړه کی امریکائیان له داسی کسانو سره مخامخ دی چې د ټینګې عقیدی او ایمان لرونکی دی او هیڅکله راکټونه او بمونه دا عقیده له منځه نه شی وړی بلکی هغه به لا ټینګه کړی په هغو مرکو کی چې له مسلمانانو او په تیره بیا افغانانو سره د دله ییزو خبری وسایلو له لاری کیږی هغوی اکثراً د مقابلی او جهاد خبری کوی . د امریکا وحشیانه عملیات داڅرګندوی چې جهادی روحیه حتمی د افغانستان په بهر کی هم توی کیږی چې په دی لړ کی د پاکستانی مسلمانانو چمتو والی له امریکی سره جهاد ته د اندونیزیا د مسلمانانو ګواښونه ،امریکایی څیز ته په دغه هیواد کی د منځنی اسیا څجهادی مشرانو ویناوی د صهیونیستی غاصب رژیم په وړاندی د فلسطین د مبارزی چټک والی ،د اسلامی هیوادونو د جهادی حرکتونو خوځښت او په لویدیځ کی د امریکا په ګډون د مسلمانانو مظاهری داڅرګندوی چې د جهاد روح او مبارزه د صلیبی تیری کوونکو او د اسلام د دښمنانو په مقابل کی لا هم تقویه کیږی او دا لړی به تر وره هم چټکه شی باید هیر نه کړو چې نظامی فشارونه او امکانات یوازی مادی ضررونه اړولای شی خو عقیدی او فکرونه له منځه نه شی وړلای .

همدا اوس په افغانستان باندی د هر بم او راکټ په لویدو سره په ملیونونو مسلمان ځوانان لاسونه موټی او امریکائیان مخامخ مقابلی ته رابولی ځو چې د دوی د تیری ځواب ورکړی او له شک پرته د ایمان او عقیدی یری پر مادی وسایلو ثابت دی ځکه مسلمانان هم په خپل یری او هم په خپل شهادت کی یری او سرلوړی وینی او د الله «ج » د رضا د لاس ته راوړلو او د جهاد د فریضی د ترسره کولو لپاره خپل هر ډول تیاری څرګندوی .

ابتدا . . .

ده د سخت انتقاد په لړ کی په افغانستان باندی د امریکا د وحشیانه او بی رحمانه برید په باب وویل ؛

دغه هیواد کولی شول له بلی لاری څخه په افغانستان کی ګټی د تروریزم پر ضد مبارزه وکړی،ده زیاته کړه ؛ دا په امریکا پوری اړه لری چې لومړی یی په نړی کې تروریستی اعــمـالو کی د القاعده د سازمان د لاس لرلو په باب نړیوالو ته ښکاره کـــړی وی د ایران اسلامی جمهوریت څو ځو ځلی په افغانستان باندی د امـــــریکا د وحشیانه بریدونو پــــرضـــد خپـــل سخت مخالفت ښـــودلی دی .

عکس: واین هم منازل مسکونی در قلعه زمان خان که مورد حمله طیارات امریکا و انگلستان قرارگرفته است.   عکاسی یوسف

دبوش . . .

د بـــوش دغــه تصمیم د بیلابیلو بشری تــولنو له خوا د انتقاد ور ګرځیدلی دی .

SHARIAT DAILY
Published by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:Mawlwi. Assadullah.Haidari
Editor :M.Abrahim.Nabil
Composed by:Ahmad Jawed .Faqeer.

تـــوجـــه!
ایمان شما اجازه نخواهدداد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید